مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۳/۰۱/۱۲

# خونړي روايتونه

په تېره نيمه پېړۍ کې د افغانستان ټولو حاکميتونو دعوه کوله چې اسلامي دي. اوسنۍ واکمنۍ يو نه ځوګامه وړاندې اېښي او دعوه کوي، چې:

«په ټوله دونيا کې ايکي يوازينی اسلامي حکومت همدا دی او بل نه شته!»

خو ګورو، چې په ګرده نړۍ کې د ايکي او يوازې همدا يوه اسلامي او بشپړ شرعي رژيم په ضد هم اسلامي ځانمرګي بريدونه کيږي او له دوی سره د دوښمنی په ټس کې عام افغانان وژل کيږي.

په تور ګاونډي کې د ځانمرګيو د توليد کارخانه چالانه ده، نه په اسلامي پسې ګرځي نه په نااسلامي پسې، بس د افغانستان خلک وژني.

د ځانمرګيو په اړه دوه فکرونه حاکم دي:

پلويانو يې ويل: دا اسلامي جذبه ده، چې دوی انتحار ته مجبوروي.

که دا اسلامي جذبه ده، نو د لومړي باور خاوندان اوس څه وايي؟ دا نن چې ځومره ويني تويې شوې، دې ته څه نوم ورکوئ؟ دا کومه جذبه ده؟

مخالفينو يا بې پرې خلکو ويل: دا هيپټونيزم ته ورته يوه رواني لوبه ده، چې د مصنوعي - عقيدوي روايتونو په مرسته يو وګړی تر دې بريده تلقينوي، چې داسې کار ته چمتو شي.

درېيمې ډلې ويل، چې دا په ځانګړو درملو تر دې بريده رسوي...

ښه دا چې هرڅه دي، وي به، خو عوامل او ابزار لا هم د پاکستان په لاس کې دي.

پاکستان د ځانوژنې تر بريده د ښوزلې، بېخبره، نالوستيو او محرومو افغانانو د پاروني او د خپلو خلکو او هېواد په وړاندې جنګولو ته تل خونړي روايتونه توليدوي.

کيسه د داود خان له جمهوريت سره راپيل شوه، بيا شوروي کوميونيسته او بې خدايه وه، جهادي روايت يې اسانه توليد کړ، بيا يې خپل مجاهدين شر و فساد کړل، بيا يې امريکايي اشغال ته مخه شوه او اوس ښايي کوميونسټ چين او بېرته په سرو روسانو دا کړۍ ورتاوه شي.

دوښمن بدليږي، خو روايت، انګيزه او عوامل همغه دي.

روايت د دين خونړی تفسير دی، چې د افغان او افغانستان دوښمنی پر مخ راکاږل کيږي.

انګيزه عقيدوي ده؛ اسلام تل په افغانستان کې په خطر کې دی! حتی نن، چې د واکمنو د ادعا له مخې د نړۍ يوازينی سوچه، نکه او بشپړ شرعي اسلامي نظام حاکم دی.

عوامل: د افغانانو فقر، محروميت، لوږه، جهالت، بې خبري او په خرافاتو کې ډوب شعور دی، چې پاکستان يې تل د خپلو پانګوالو بادارانو په فرمايش کاروي او د زرګونو زلميو تر ملا او ټټرونو باروت ورتړي او بيا يې افغانستان کې منفجروي.

چې د اصحابو حاکميت هم راولئ، پاکستان يې پرضد ځانمرګي روزلی شي، بس خلاص!

تر هغو چې ملت راويښ او هوښيار نه کړئ، عوامل، انګيزه، روايت او د بل په لاس د دين تعبير و تفسير له منځه نه ځي.

دا يې ښنه،

اسلام په خطر کې دی او نورې ويني غواړي!

يا به ټول ملت راويښيږي،

يا به په همدې باطله کړۍ کې تاوېږئ او مره کيږئ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ